درنولوستونکو!

د لیکوال او ژورنالست محمد نبی تدبیر صاحب نه بی حده مننه چې اول یې د مولانا قیام الدین خادم د پښتونولی د کتاب پی ډی ایف کاپی را ولیږله، او بیا یی له خپله انده دا ښه ګڼلې چې ټول کتاب پخپله ټایپ کړي، چې مونږ او تاسو ته یی لوستل بیخی اسانه شي. تدبیر صاحب! خادم داینستي، د علم او فرهنګ سره ستاسو د مینې مننویه ده. کور دې ودان.

# پښتونولي

پښتونولي د عربي ګرېمر په اصطلاح جعلي مصدر دی په پښتو کې د پښتونولي معنی دا ده: (افغانیت یا افغان کېدل) په پښتو ګرېمر کې د نوم د پښتونولي معنی مشتقه کلمه ده. ځکه چې په آریایي ژبو کې له یوې کلمې بله جوړول یا اشتقاق کول د سروند، پښتوند (پرېفیکس او سفیکس) په واسطه کېږي. دلته هم (ولي) پسوند یا سفیکس دی چې د پښتون د کلمې پورې یو ځای شوی او د معنی اسم یې ترې جوړ کړی دی.

پښتون د قام او ملت نوم دی خو چې وو ایو (پښتونولي) نو معنی یې ده: د پښتون د کلمې ټول هغه محتویات، معنویات او صفات چې یو شخص ورباندې متصف شي نو پښتونولي یې بولي.

د دې نه دا نتیجه لاسته راځي چې د پښتنو یعنې افغانانو قومیت د دنیا د نورو قومیتونو په شان یوازې د نسب سلسله نه ده، بلکې د اخلاقو، ضابطه هم ده. که څوک سل کرته هم د نسب سلسله پښتون ته ورسوي، پښتون به نشي څو چې د پښتونولۍ په صفاتو او اخلاقو مزین نه شي. د پښتنو فلسفه وایي «قومیت د اخلاقو ضابطه ده نه د نسب سلسله!».

هر کله چې پښتونولي او افغانیت د پښتون او افغان د صفاتو او ممیزاتو نوم دی نو د پښتونولۍ په معنی هغه وخت پوهېدی شو چې د (پښتون) کلمې په معنی پوه شو.

پښتون کلمه هم لکه پښتونولي مشتقه ده (ون) صفتي پسوند دی. یعنې د اسم نه یې صفت جوړ کړی دی لکه چې وایي: فلانی پښتون سړی دی یا دا چې فلانی هیڅ پښتون نه دی. نو اصل کلمه (پښتو) پاتې شوه خو پښتو هم د آریایي ګرېمر د اشتقاق له مخې جوړه شوې کلمه ده ځکه چې (و) نسبتي پسوند دی نو د پښتو معنی شوه (پښت ته منسوبه ژبه یا اخلاق!) نو د پښتونه پښتو او له پښتو څخه (پښت) لاسته راغی. پښت د یوه تاریخي قام نوم دی!

د پښت کلمه: چې د (ښ) فونیم په لحاظ چې تاریخي قدامت لري په دوو لهجو وېشل شوې ده: (پخت – پکت) او د هندي تلفظ پر اساس (پکهت) هم ویل شوې ده. نو اصلي کلمې د زماني په تېرېدو څلور لهجې پیدا کړې دي (پښت – بخت – پکت - پکهت) د پکت په باب زما عقیده دا ده چې دا تلفظ د سکندر له راتلو وروسته د یوناني لهجې په لحاظ عام شوی دی. باکتریانا – پکتیا، پکتیکا د یوناني مؤرخینو له قلمه مونږ ته رارسیدلې دي.

البته (پکهت) چې کهـ فونیم په کې دی چې د سنسکریت د فونولوجي له بقایاوو څخه معلومېږي (پخت) نه (بخد) او بیا (بخدي) جوړ شوی دی.

د بخدي کلمې د ژوند په واسطه زیات شهرت وموند.

دغه بختي د اوښانو له نامه سره تر اوسه په پښتو کې رواج لري. بخدي د ام البلاد د بلخ هغه نوم دی چې د ژوند په نصوصو کې تر نن ورځې ساتلی راغلی دی. زمونږ لیکوال داسې فکر کوي چې له (بخدنه بخل – بلخ) د تورو په وړاندې وروسته کېدو جوړ شوی دی. باختر او باکتریانا د (بخت او بکت) نه ساز شوی دی.

دلته د بخل یو بل نوم هم شته چې تر ټولو پخوانی دی. دا نوم (بلهکا) دی. د دې کلمې اصل د (بل) لفظ دی چې د جرقې په معنی دی. د (بل – بلک – بلکه) نه (بلکا او بلهکا) جوړ شوی دی. دا اسم هغه وخت رایادوي چې د هندوکښ د شمالي سیمو خلکو لومړی ځل د (اور – بل ځل – بلک) ولید. د بلک نه سامیانو (برق) جوړ کړ. سومریانو دا کلمه د ځانه سره بابل ته یوړه او هلته یې په دې نامه د (ur) اور ښار جوړ کړ. دا اور وروسته (فور – او- فائر) شو. همدا اور چې (هور) هم ویل کېږي. د (خور) مبدأ ده چې په (خورشید) کې لیدل کېږي. د اور په لیدلو خلک د اور د مبدأ په فکر کې شول او د اور په عبادت ولګېدل (خیر خانه – خورخانه د بوډیالۍ سورچ – سورج – د مزار درې شو، شوماش چې د بابل د شوماش سره ربط لري ډېرې وړاندې زمانې رایادوي!). دا نومونه د نمرود د عبادت د عصر دي.

دا ټولې خبرې د (پښت) پورې رایادې شوې. د پښت کلمه اوس هم په پښتو کې مستعمله او موجوده ده لکه چې وایي: ( ته د چا له پښته یې! – یا دا چې شهاب الدین غوري په ۴۵پښت کې ملک سهاک ته رسېږي. د پښت اصل معنی نشي معلومېدی خو دومره ښېخي څرګنده ده چې د پښت په نامه په ویدي او قبل التاریخ عصر کې د آریایي روایاتو له مخې یو ډېر لوی، قوي، مالدار، ایماندار، قرباني ورکوونکی، بهادر، زړور او ساهو قام یاد شوی دی. نو تر څو چې په علمي او تاریخي لحاظ پښت قام او د هغوی ژبه او سجایاونه پېژنو نو ځکه به پوه شو چې د پښتون یا پښتو لرونکی څه معنی! نو ښایي چې دغه پښت چې د پښتو، پښتون او پښتونولۍ اساس دی وڅېړو: چې شل زره ق م عصر کې چې د مصر د کلکولیتیک د دورې د ظهوره عصر دی. آریایانو د خپل قبل التاریخ ژوند لومړنی اعصار د آریانا په خاوره کې تېرول کوم علماء چې د آریایي په تحقیق بوخت دي وایي چې په ۸ زره ق م کې اصلي آریایي ژبه د ټولو آریایي ژبو مور ده. په باختر کې ژوندۍ او رائجه وه. له اوستایي منابعو څخه معلومېږي چې آریایانو په پنځه زره ق م کې د واورو او یخنۍ په سبب له آریانا ویجه مهاجرت وکړ. د سوغدیایي او مروې په لار بخدي ته راغلل او دلته درې زره کاله پاتې شوه، ځمکه پرې تنګه شوه نو په ۲زره ق م کې څه د هندوکښ شمال خواته او څه یې جنوب ته ولېږدېدل.[1] د دغه مهاجرت په وخت کې (پښت نوم) په صراحت سره یادېږي. زمونږ تاریخ پوهان په ۲زره ق م کې چې د هند پر خوا د مهاجرت وخت دی[2]، دوه قامونه په ډېر اهمیت سره یادوي

1 او هلته یې په خپل نوم (پارتیا) جوړه کړې وه.
2 د لومړي هندي اروپایي مهاجرت عصر دی.

(یوبهارت او بل پښت په بهارت – او - پارت) کې فرق تش د سپین سترګي (هـ) او (ب – پ) دی. سپین سترګي هـ د هندي لهجي نښه ده چي په ډېرو تورو پسي یې زیاتوي. که دا نه وي د (بهارت – بارت) څه فرق دی! همدا رنګه (پارت – پارتیا) و بیتون په ډبرلیک کې په (ت) نه دی، بلکې په (ث) سره د (پرسو) او – (پارسیا) په صورت راغلی دی. پارت د (پارس) سره نښلوي نو (بارت – پارت – پارس) د یوې کلمې یا یو نوم مختلفې او بېلې بېلې لهجې ښکاري. پارتیان په یقیني ډول د پښت د کورنۍ خلک دي. پارتیا پنځه سوه کاله یو مترقي دولت ؤ چې خپله ژبه یې همدغه شان کشاترپه او تورکشه خلک چې له ویدي عصره څخه یې د یفتلیانو د امپراطورۍ پورې په ډېرو مواقعو کې یادېږي. بې له تورکښانو او دغه بهادر قوم څخه بل څوک نه دي!

د پښت ټبر د ویدي مشهورو قبایلو د باختري کتلي له جملې څخه دي. خپل مهاجر ته مخکې په باختر کې استوګن ؤ د ۲زره ق م د مهاجرت په وخت کې په دوه برخو ووېشل شو. یوه برخه د لس قبیلو په جمله کې د هندوکښ جنوب ته راښکته شوه او د آریانا جنوب شرقي سیمو کې ودان شول او دغه سیمه یې په خپل نامه پکتیا مسمی او مشهوره کړه. د دغه قام هغه بله برخه چې په باختر کې پاتې شوې وه د ویدي او اوستایي مدنیت زمانه یې په باختر کې تېره کړه او له دغو څخه د پارتي قبیله د غرب خواته تللې او هلته یې په خپل نامه پارتیه جوړه کړې وه د ق می د دریمې پېړۍ په نیمایي کې پښتنو د پارت د قبیلې یو مشهور شخص چې ارساس یې باله د غرب په لور د پارتیا علاقې ته لاړ چې د خپل قام ځیني خلک ورسره وو او هلته یې د پخوانیو او اوسنیو عزیزانو په مرسته شامي یونانیانو په مقابل کې د خپلواکۍ اعلان وکړ. پارتیا په خپلو جغرافیایي حدودو کې د ۶۰۰ ق می نه ډېر پخوا د آریانا د ډېر غربي ولایت په حیث موجوده وه.[3]

پارتیا د غرب له پلوه د خزر د بهیرې په غاړه یا د قبیلې د ولایت سره لګېدله. ارمني منابع وایي چې دوی به پارت ته (پهل) ویل. د پارت یوه بله څانګه (پهلوا) یاده شوې ده چې له دغو څخه فکر فوراً د (پهلوي) کلمې خوا ته ځي. د هیرودوت د معلوماتو له مخې د (پښتانو) یوه بله څانګه بوره هم پسې غرب ته لاړه او د ارمنستان په لمر پرېواته کې یې واړول او دغلته یې هم ځانته (پکتیس) یا (پکتولیس) وویل او دغه خاوره په (پکتیګا) مشهوره کړه. دا باید هېره نه کړو چې ذکر شوی ارساس مشر د ارشکب په نامه هم یاد شوی دی چې د موجوده ترکستان (عشق اباد) مرکز د ځینو محققینو په اند له ارشک نه (اشک) او (اشیک اباد) نه (عشق اباد) شوی دی ځکه چې دغه سیمه د پارتیا جزء ده.

د هیردودوت پکتیکا یا پښتیخا د جغرافیې په لحاظ همغه ساحه ده چې نن ورته پښتونخوا وایي او پرون روه بلل کېده. دا ځکه په ځینو تعبیرونو له هراته تر سواته خوره ده. جنوب حد یې

[3] د کهزاد د افغانستان د پخواني تاریخ اول جلد.

د کابل سیند ټاکي او په ختیز کې یې اباسیند بهېږي. کسی غر او سپین غر یې په منځ کې پراته دي!

هیرودوت وایي په پکتیا کې څلور قامه هستوګنه لري:

۱ – ګنداري. ۲- پاریتي، ۳- ستاګیدي، ۴- دادیک

ګنداري همدا کنداریان چې د ویدونو له وخته همدغلته اوسي. اپارتي افریدي چې نن په تیرا کې پراته دي. ستاګیدی د سلوغو او یا سلومېږو خاوندان چې پخوا په ډېره لویه ساحه کې پراته او ډېر وو او نن د پښتونخوا د جنوب شرق په یوه کوچنۍ سیمه کې محدود شوې دي خټک دي. چې یوه قبیله یې شیتک بلل کېږي. خټک شیتک کلکه لهجه ده. له شیتک څخه (سیتی) زېږېږي. شک نشته چې دوی ساک دي. دادک د هیرودوت په تحقیق پښتانه دي.

بهارت قبیله: د آریایي مهمو قبیلو له جملې یا د کشاتریاپه توریالي قام له مهمو قبیلو څخه یوه ده. (ق ک) (ج ص ۸۱) کسشاتریه یا کشتری چې د تورکښ مقلوب دی تل د پښت قام صفتي نوم یاد شوی دی. د لس ملکانو په جنګ کې چې (پښتان) د څلور نورو ملګرو قبیلو په اتفاق د نورو پنځو قبیلو سره ویسوامتراد تبیلغ له مخې په یوه متحده جبهه کې ودرېدل دغې جبهې د بهارت ډلېت د سوداس آریایي پادشاه په مقابل کې چې مخکې هند ته راغلی ؤ تقویه کړ. هرکله چې بهارت قبیله زوروره او قوي وه هند یې اشغال او په خپل نامه یې (بهارت) ورته مسمی کړ. «ورته» د (ورشو) په صورت چې مالګړ ته وایي په پښتو کې شته. د لس ملکانو جنګ د لس بادشاهانو ؤ (ملک) هغه وخت تر غوریانو پورې د بادشاه په معنی ؤ چې په پښتو کې تر اوسه موجود دی. په لږ تغیر سره یې ته تللی دی.

ښ ظفر وایي: یاد ګروپ د نیکه انا پنځو قبیلو نوم دی چې توروااشا قبیله هم په کې وه. دغه ګروپ د پکتها ګروپ د پنځو قبیلو سره په خپلو کې د یو نسل – یوې عقیدې او یوې ژبې خلک وو. څرنګه چې یاد ګروپ پارسوا سره تړلی پاتې شوې دی. دغه رنګ په پکتها (پښت) ګروپ هم د پارسوا سره مربوط ؤ. دغه تاریخي (پښت) اوس هم د پښتنو په هېواد کې موجود او مستعمل دی لکه (۱) د پښتون کلمه چې له (پښتا) د پښتو په واسطه جوړه ده. (۲) د بلخ، بخدي او باختر رائجې کلمې هم له (پښتا) سازې شوې دي. (۳) د کونړ او باجوړ د پښت هم د (پښت) له بقایاوو څخه دی. (۴) د فراه د (پښت) رود د (پښت رود) د سیند په لحاظ چې (پښتانو) له تاریخي ټاټوبي غور څخه راځي. (۵) پکتیا خو هم په اصل کې (پښتانه) ده. (۶) پشین هم د (پښین - پښتین) څخه جوړ نوم دی. (۷) بخدي هماغه (پښتي اوښان) دی چې د بخدي په واسطه پښت ته رسېږي. (۸) د بلوچستان (بکتي قبیله) په اصل کې (پښتي) ده. (۹) د ساسانیانو د کتیبو) پشکاپور) او (۱۹) پشکالاوتي – چې اول د پېښور او دوهم د چارسدې

نوم دی. په دواړو کې (پشکا) اصلاً (پښکا) دی. چې د قدیم (پښت) کوم صورت دی. (نوې لار)

**د پښت او پښتون مترادفات:** چې افغان او پټان کلمات دي په دغو کې ډېرې خبرې شوي چې علمي بنیاد نه لري. دا دواړه کلمې ډېرې لرغونې دي. افغان د بیتون په کتیبه کې د ناپګان ګان په شکل راغلی دی. پټان په اصل کې (په تان – یا په تون)دی. همزه په (اپګان) کې نافیه ده. په پښتو کې د (ګام) په صورت موجود دی چې تګ ته وایي. نو (اپګان) (نه په تګ) شو. معنی یې دا شوه چې (پښتون) هغه قام دی چې (نه په ګام) یعنې نه په تګ دی. بلکې (پټان – او – په تون دی).

حاصل دا چې پښت او پښتون قام د مهاجرتونو په وخت کې په خپله خاوره غیرت کړی دی. تګ او مهاجرت یې نه دی خوښ کړی او په (تان = تون = وطن) پاتې شوی دی. ټولې سختې سپورې او مشکلات یې ګاللي دي. دا قام د همدې خاورې وفادار فرزند دی ؤ او وي به. د پښتنو د پاره دغه تاریخي افتخار چې د افغان او پټان په کلمو کې محفوظ دی تر ابده بس دی !!!

## پښت په اول سر کې څنګه منشعب شو؟

د پښتنو وروستی ناریخ او نسبنامې عربو له قیس عبدالرشید نه شروع کړی دی او نورو د عربو په تقلید دا درس ښه ضبط کړی دی خو د مخکې تحقیقاتو له مخې دا تاریخ ډېر وړاندې تېرېږي نو اوس هر سړی پوهېدی شي چې د قیس عبدالرشید افسانه په علم اتکاء نه لري. په تاریخ کې پس له (پښته) دوه لویې قومونه لیدل کېږي چې دواړه د پښت له توکمه دي. یو – ساک =سهاک.[4] بل – کاسی.

په تاریخ کې د غوریانو سلسله ملک شنسب ته رسېږي. د شنسب یعنې د (شین اسپ) خاوند کړی. په (سوړ – او – سام) پورې تړلي ده. د سور او سام نسب (ملک سهاک) ته رسېږي. ملک سهاک همغه شخص دی چې د جمشید معاصر او اندول ښودل شوی دی. مګر سهاک چې کوم وخت په جمشید غالب شو مرکز یې په بامیانو کې ونیو. لکه چې همدا اوس د سهاک د ښار کنډوالې په بامیانو کې لیدل کېږي. عربو سهواً سهاک ضحاک بللی دی او چا ورته ضحاک ماران ویلی دی. د غوریانو، سوریانو، لودیانو کورنۍ قومونه او تپې – غلجیان هم د ټول تاریخ سره سهاک دي – او ملک سهاک ته رسېږي. سهاک کیومرث (ګومرد) سره چې مجسمه یې په سیندیانه کې پیدا شوې ده ربط لري او آن بابا ادم ع ته رسېږي. ملک سهاک

---

[4] په تاریخ کې (ساک او سهاک) کله یو شي او کله بېل بېل ذکر شوي دي خو دي یو شی.

باختر د نامتو باچا (یما) نژدې خپل دی. ښه نو چې دا دواړه په نسبي خپلوي تړلي دي او یو (پښت) شي په بل کې څه ووایو:

د غلجیانو په الحاق باندې په سهاک پورې ځینې کسان وتوریږي خو لږ تأمل په کار دی. غوري له (غور) څخه جوړه شوې کلمه ده (غور) د (غر) یوه لهجه ده. دا رنګه په (غلجي – غلځی) کې (ل) د (ر) په بدل کې راغلی دی نو (غرجی – غرځی) پاتې شو. (جی – ځی) د (ځای) په معنی کې یو شی دی. له بلې خوا (ځی) د (ځوی) معنی هم ورکوي. نو (غرځی) یا د غره د ځای اوسیدونکی دی یا د غره زوی دی لکه (کهزاد). نو د تحقیق له مخې (غوري او غلجي) یو شی دی. زمونږ په تاریخي وطن (آریانا پښتیانا) کې د (غر) په مناسبت اوس هم ډېر نمونه شته چې د (غوري – غلجي) تائید کوي لکه (غور – غوری – جاغوری – غوری غوربړي – غوریا ، غوریاخېل – غوربند – د هند غوری – غورماچ – غوریان – پیش غور ساغر- سپین غر – لوګر- جبل الزور- سورغر – تورغر- سیاګرد=سیاغر- او داسې نور. چې تفصیل یې په هغه کتاب کې دی چې د سمینار له خوا چاپیږي او دا د هغه لنډیز دی.

**ساک ټبر:**

دلته په ساک غږیږو، د مسکو د اکاډمي علماء وایي (ساک زر کاله مخکې له میلاد او زر کاله وروسته له میلاده په دوه زره کلن تاریخ کې د تورې بهیرې نه د هند د ګجرات کاټیاوار او د پامیر د لوړو څوکو څخه ورهاپلو – لکه کاشغر خوتن تیان شان او د سائبیر یا د فلات له منځ څخه – د شط العرب او د هند دریاب پورې په دې لویه ځمکه خپور پروت ؤ). په شمال کې تر والګا رسیدلی ؤ. دا هماغه ساک دی چې په پنځه زره مخکې تاریخ کې یې نوم د (جمشید) سره یو ځای یاد شوی دی خو هلته د شخص په نامه او دلته روسي منابعو د قام په نامه ښودلی دی. روسي منابع وایي چې «د ساکو اصلي هېواد افغانستان او د هندوکش لمنې دي. بیا له دې ځایه د خپلو رمو ګوومو پادو غېلو او ګلو سره هر پلو خپاره او د لویو حکومتونو او شاهنشاهیو په جوړولو موفق شول. او څوک چې په خپل هېواد پاتې شول (مرکزي آریایان) وبلل شول». ساک په تاریخ کې په ډېرو نومونو یاد شوی دی چې د سمینار په اصل کې یې ما دېرش نومونه راوړې دي. د روسي علماوو د تحقیقاتو له مخې په دغو ټولو نومونو کې اصل کلمه (ساک) ده. یوچي تخار- ستی، سکائی، پهلوا، اسکائی، کوشانی، یفتلی د کابل رایانو پورې غونډ د ساک یعني ساک له ټبره دي.

زمونږ پښتانه محققین (دله ځاک) ډله سهاک ګڼي چې د پېښور په هزاره ضلع کې تر کشمیر او پینډۍ پورې پراته دي. چې د اکثرو ژبه لا اوس هم پښتو ده. توروالی د شهو مین هم له دې قامه ؤ. ساک یا سهاک په لومړي مهاجرت یعنې هندو – اروپایي مهاجرت کې چې د غرب او جنوب خواته شروع شو او لاتین سلت جرمني او سلاو قومونو د اروپا خاوره ونیوله

نو دوی (سها) تېر ځای پر ځای په خپله خاوره پاتې شوه. ځیني خلک چې په دغه مهاجرت کې باختر ته راغلي وو هغوی خپل ځان آریایي او خپل مسکن یې (آریانا) وباله. دغه نور چې په آریانا ویجه کې پاتې وو، وروسته دوی هم په حرکت راغلل. ځیني یې د اورال غرو خواته خوره شول او ځیني یې د سردریا حوزې د شرق خوا ته د تیان شان غرو له تېرېدو وروسته د کاشغر علاقې ته ننوتل او له دغه ځایه یې ټول شرقي ترکستان د کونچې قره چار او توین هوانګ ناوی تر کانسو (په چین کې دی) پورې اشغال کړی او د چین د خاورې سره یې ټکر وخوړ.

د غرب پلو ته یې د تورې بهیرې او خزر شمالي برخې ونیولې. د اورال د غرو پورې مځکې لاړل د شرقي اروپا د ځمکو سره ولګېدل. د روسیې جنوب چې وښیلنه ځمکه ده د دوی په نامه (سیتیا) وبلل شوه. همدغه شا کې قومونه څو څو ځله بېرته د سردریا حوزې او باختر ته راغلي دي. کله په یو نامه، کله په بل نامه ځکه نو مؤرخین په اشتباه کې لوېدلې دي. ساکو او د دوی د قبیلو په باب یې ګډې وډې نظریې لیکلې دي.

وایي چې کوم وخت دوی د غرب خواته د اصلي ټاټوبي په لومړي ځل وخوځېدل. سومریان یې له سوغدیایي څخه بې ځایه او په مهاجرت مجبور کړل چې له دې حادثې څخه د مهاجرت نیټه ۸ – ۷ زره ق م اټکل شي. هغه ساک چې د سنکیانګ او کانسرخوا ته تللي وو – ۳ سوه کاله هلته وو. ظفر د خپل تاریخ په ۲۲۰مخکې وایي: «ساک او پارتیان د یو قام دوه قبیلې دي». پارتیان خو پښتانه دي. نو ساک په خپله معلومېږي. د افغانستان (سیستان او سجستان) د دوی په نامه دي. د ساکو په نومونو کې (سي SEE) او (سګه – سجه) هم شته.

تخاریان چې د ساکو مشهوره قبیله ده مؤرخینو (توخارا) هم بللې ده. په کانسو کې یو ښار د (توګارا) په نامه موجود ؤ. بطلیموس د وریښمو د لویې لارې په سر د (توګارا) د ښار له وجود څخه بحث کوي. دغه (توګارا Togara) ښار وي او که کام بې له (تګاو) او تګاویانو څخه بل شی نه دی.

د یفتلیانو په باب ډېرې بې فکره خبرې شوې دي اما یفتلیان په قطعي ډول یو چې سهاک دی[5].

دا چې سنسکریت ورته (سیتا او نا – او – شوتا هونا) ویلی دی. چې معنی یې سپین هونز دی.

نو په مونږ یې څه تاریخ په ډاګ وایي: (هون) د یوچیانو مخالف مغول توکم ؤ او یفتلیان ارین او سهاک دي. ابدالیان یفتلیان بلل څه دومره بده نه ده. مګر یفتلیان (هون) ښودل لویه علمي

[5] په موجوده افغانستان کې سهاک قومونه: پرته له غوریانو، سوریانو، لودیانو، غلجیانو او دله ځاکو څخه د کوسین، توتاخېل – موسه خېل – کوندرخېل. د اوزبین، میرعلي خېل – د پغمان او میدان اوریاخېل، ابراهیم خېل او کادي خېل. او همدا رنګه د کامې ابراهیم خېل – د سره رود خدرخېل – د مکور ګلګر – د غزني اندړ د کابل (تره خېل – توره خېل) د زابل ا کندهار توخي – هوتک – د کابل د شیوکیو سهاک دا ټول سهاک دي.

ګناه ده چې تلافي یې په اعتراف کېدی شي او بس! رتبیلان د کوشانو یفتلي خابښ ته رسېږي.
پس له رتبیلانو نوبت اسلام او د غوریانو او غلجیانو سلاطینو ته رسېږي چې فغانه لري.

د پښت دوهم خابښ پس له سهاکه – کاسی دی. راځئ چې لږ په کاسي غور وکړو:

د کاسي نوم د ق م (۱۷۰۰) کې تاریخ ثبت کړی چې په کرمان کې موجود ؤ. کوردان هم ورسره وو هغه استنباط چې له عتیقه اثارو شوی دی وایي: د ق م په ۹- ۸ زره عصر کې چې د آریایانو د لومړي مهاجرت نیټه تخمین کېږي کاسیان د سائبیر یا له لوړو سیمو څخه د خزر د بحیرې لور ته راوخوزېدل. له کومه ځایه چې راغلي وو هغه ځای د دوی په نامه (کانسک) نومېده. چې تر اوسه هم په همدغه نامه شهرت لري. د دوی عادت ؤ چې چېرته به اوسېدل هغه ځای به یې په خپل نامه مسمی کاوه. نو ځکه د خزر د بحیرې په غاړو چې چېرته – اوسېدل هغه ځای ته اوس هم (کاسل) وایي. اوس په نقشو کې شته په ق م (۱۷۴۵) کې دوی د خپل مشر ګانداش تر اداري لاندې بابل فتح کړ.

تقریباً (۵۷۳) کاله د دوی (۲۶) بادشاهانو له ګانداش څخه تر (لیل نادین رهه) پورې په بابل حکومت کړی دی. بیا وروسته اشوریان او عیلامیان ورته یوه جنبه شول او دوی ماتې وکړه. دا وخت هم کوردان ورسره وو. دغه وخت د شط العرب خواته لاړل. تر دې وروسته تاریخ لږ تت دی. په ۳۰۰ ق م کې د دوی هستوګنه په ایران کې ثابته ده.

بیا نو په بلوچستان کې راښکاره شول. د کوټې په علاقه کې چې کاسیان پراته وو د (کند) او (زمند) په نومونو بېلېدل. چې دوه قبیلې دي. دا قومونه وروسته کوټې او بیا ژوب ته راغلل. ورپسې د (کسي) غر یعنې د سلیمان غره په درو کې خپاره شول او دا غر یې په خپل نامه (کسي غر) مسمی کړ.

**ساکي او کاسي:** که له سهاک څخه (ساکي) ومنو نو (ساک او کاسي) ښځې نږدې کېږي. که د نسبت (ی) ورنه وغورځوو نو (ساک – کاس) پاتې کېږي چې بې د تورو له مکاني قلب څخه نور فرق نه لري. دا ماته ډېره ګرانه ده چې ووایم ساکي قام مخکې دی که کاسي. خو دا یقین ته ډېره نږدې ده چې ووایو په اول سر کې دواړه یو قام ؤ. وروسته بېل شوې دي. د دواړو قامونو تاریخ زرګونو کالو ته رسېږي. دواړه قامه پښتانه دي. چې سوونه قبیلې او ټبرونه لري. ما چې د پښتون د قومونو په باب کوم فکر کړی دی په لاندې رباعي کې مې راوستی دی:

**پښتون په اصل کې ټول غلجی دی**

**له غره پیدا دی دغه یې ځی دی**

**د پښت له پښته راټوکېدلی**

**که څوک سهاک دی او که کاسی دی**

دکاسي دغه تاریخی قوم تر نن پورې د غرونو، دریابونو، قومونو او ملکونو په نومونو کې ژوندی پاتې دی.

۱ – د لغمان د الیشنګ درې پر سر کې (کسیګر) د یوې قریې نوم دی چې هلته په تیږو پخوانی لیک او تصاویر شته چې نه دي لوستل شوي. البته کسیګر( کاسي غر) دی.

۲ – د کونړ د (ګوریک) نه لړ بر د (کاشکوټ) کلی دی. دا کاشکوټ هم (کاسي کوټ) دی.

۳ – د کیسپین مشهورې بحیرې په نوم کې هم اول جزء کاسي دی.

۴ – د امو په پاسنۍ برخه کې چې کوم سیند ( کاشیک) نومیږی دا نوم هم له کاسي جوړ دی.

۵ – کسي غر – د سلیمان د غره نوم دی دا هم د کاسی په مناسبت دی.

۶ – ققفاز په اصل کې (کفکاسي) دی. چې کاسي په کې څرګند دی.

۷ – کشمیر – د کاسي او میر نه مرکب دی.

۸ – قاشقار – کاشکار – کاسي کر – او کسیګر دی. نه بل څه!

۹ – کاشغر- خو پخپله (کاسي غر) دی.

۱۰ – کانی – په نورستان کې د یو مشهور قام نوم دی. چې یې له (کاسی) بل شی نه دی.

دغه علاقه ډېره موده کاسیانو د حکومت لاندې وه د نورستان مجسمې چې له لرګي دی وسله، اسونه، مخروطي خولی د کاسیانو کولتور ښیي.

د کاسي په نامه غور او کوټه کې مراکز او قامونه شته چې پښتو وایي.

د قیس عبدالرشید نوم عربو نه کاسي نه جوړ کړی دی. چې کاسي د قام نوم دی. د قیس د درې اورمړ، کند، زمند، غوریا، ښخي، ګګیاڼي، مهمنزي – وتمانخېل، مومند، ترکاڼي، مندړ، یوسفزي، ګدون، منصور سره نور او نور ټول کاسیان دي. تر دې ځایه مونږ پښت قام او د هغه دوه څانګې (سهاک – او – کاسی) وښودلې.

پښتون هم په پښت کې معرفي شو. اوس باید د قام ژبه (پښتو) معرفي کړو.

دلته همدومره ویل په کار دي چې نه لس زرو کالو رادې پلو چې پښت – سهاک – کاسی د خپلو ټولو څانګو او قبایلو سره په اریاورته – بخدي – باختر – بلخ- اوپښتونخوا کې موجود وو نو حتماً یې ژبه لرله. او دا ژبه هرو مرو پښتو ده. مګر څنګه پښتو، البته د همغ وخت

پښتو! چې څوک يې د منځنۍ ایشیا د اماکنو قومنو نه رجالو، غرونو، دریابونو، او د سیمینار په تنګ وخت کې نه ځائېږي!

د پښتو په ادبي او اجتماعي خا چې څومره ما فکر کړی دی (پښتو د پښتون قام د تاریخ موزیم دی) یوازې همدا خبره چې د قام نوم د قام ژبه، د قام ملي خصوصیات له یوې مبدی څخه په (پښت – پښتو – پښتون او پښتونولي) یادېږي. دا په خپله په وضاحت سره تثبیتوي چې پښتون یو منضبط متمرکز او رانغښتی قام دی. دومره نغښتی چې د نورو قومونو نه پکې دا خصوصیت ډېر تینګ دی خو د پښتو په دې بله خوا چې (پښتونولي) ده، لږ غږېدل پکار دي. چې د پښتو قام – (سوشل سایکالوجي) ( ملي روحیه) څرګنده او معرفي شي. متأسفانه تر اوسه پښتون دنیا ته نه دی معرفي شوی!

میا سید رسول رسا صاحب د خوشحال د دېوان په مقدمه کې چې په پېښور کې چاپ شوی دی داسې لیکي: ( د پښتون قلمه د پښتون په معاشره کې دوه معناوې لري – پښتو، پښتانه خپلې ملي ژبې ته هم وایي. او پښتو، پښتانه خپل ملي سیرت ته هم وایي. د دنیا په هیڅ قام کې د ملي ژبې نوم د ملي سیرت په معنی کې نه استعمالېږي. دا امتیازي خصوصیت یوازې د پښتون په کلمه کې دی او رښتیا چې پښتو د پښتون قام د ټولو ملي خصوصیاتو حاوي ده. یعنې عرب، هندي او انګریز ه وایي چې تا کې عربي، هندي او انګریزي پښتا یا نشته خو یوازې پښتانه وایي تا کې پښتو شته یا نشته.

پښتو یوه ډېره معناداره او جامعه کلمه ده. دا د پښتون قام د ژوند په هر اړخ حاوي ده.

نو ځکه پښتون بې پښتو نشي پاتې کیدای. پښتو د پښتون د ملي ژوند عزت، شرافت، لوړوالي، غیرت او همت یو داسې معیار دی چې پښتون په دې تله تلل کېږي. د پښتون په پښتو کې د ننګ، میړانه، شجاعت، مېلمستیا، انتقام، سخاوت، عفوه، استقلال، اراده، پت، ملګرتیا، دوستۍ، سادګي، صاف ګویي، حق ویل، بې پروایي، ایثار، قربانۍ، سیالی او داسې نور ډېر ښه صفات شته. د پښتون، پښتو د اسلام نه مخکې هم د پښتون قام د ژوند یوه ضابطه ده. او د اسلام قبلولو نه وروسته هم د پښتون، قائمه ده. اسلام د پښو په پښتو ضرور خپل رنګ ته نژدې وو نو، چې راغی نو اسلام پښتنو په ایړ قبول کړ، پښتون من حیث القوم مسلمان شوی دی او دا امتیاز یوازې پښتون قام ته حاصل دی. دا امتیاز لا په عربو کې هم نشته. د پښتون قام ژبه هم د مسلمانانو زبه ده، نو په دې لحاظ (پښتو او مسلماني یو شی دی).

مونږ مخکې وویل چې پښتو د پښتنو د ملي سیرت نوم دی. دا سیرت چې پښتون په هر چا کې ووینې که هغه پښتون وي او که نه وي، مسلمان او که نه، نو پښتانه وایي (ډېر پښتون سړی دی).

پښتانه په خپلو منځو کې هم وايي: (پلانی ډېر پښتو سړی دی. د دې مراد دا نه وي چې سړی ډېر مسلمان دی. بلکې مراد دا دی چې دا سړی نمونه پښتون دی او د پښتنو په مسلک روان دی. له دې دا معلومه شوه، پښتانه د پښتنې د نارينتوب الفاظ د خپل ملي کرکټر د پاره استعمالوي. چې له اسلامي او پښتني اخلاقي جوړ شوی دی نو نتيجه دا راووته چې «هر پښتون مسلمان دی خو نه هر مسلمان پښتون دی او نه هر پښتون پښتون دی». په يوه نمونه پښتون کې علاوه له نورو صلاحيتونو او صفاتو دا څو صفتونه ضرور دي. مېلمه پال دې وي، بادرد دې وي د پښتون، د ننګ مالک دې وي، ژبه دې يې پښتو وي. رزيل دې نه وي! دا خو د ساهو او نمونه پښتون اوصاف وو چې ومو ښودل. اوس د يو عام او ساده پښتون په باب وغږېږو.

ميا صاحب وايي چې پښتانه «سترې مشي» په ځواب کې (خوارمشې!) وايي چې پښتانه د دېنه معلومېږي چې له مفلسی ډېر وېرېږي خو د سيالۍ په وخت کې دولت داسې الوزي چې سړی حيران پاتې شي، په ډکه خوله وايي: (پيسې د لاس خيری دی) زه وايم چې پښتون ځان له چا کم نه شي ليدلای. د خپل حرمت او درناوي د پاره مال او پيسې ورته هيڅ نه ښکاري. په مېلمه خرڅ هم همدا معنی لري چې دی د پيسې وږی نه دی. د عزت وږی دی. د (خواره مه شې) معنی هم دا ده چې خوار او ذليل مه شې. پښتون سپکاوی نشي منلای!

ميا صاحب وايي: پښتون کرکيله د لاس مزدوري، د عزت کار ګڼي. مګر کسب، هنر او تجارت ته په سپک نظر ګوري زه وايم چې کسبونه په ډېرو قسمونو دي. رذيل کسبونه هم ډېر دي ننني تجارت په دروغو، فريب او قسمونو بنا دی. ځکه يې نه خوښېږي، پښتون ته (ډرن) ويل لويه کنځا ده. ډرن يعنې ډارن. او دا ځکه چې دی بهادر او شجاع دی.

ميا صاحب وايي – پښتون ښه لښکر دی. خو ښه سپايي نه دی. ځکه ضابطه نه مني. بيا وايي: ښه فاتح دی، خو ښه منتظم نه دی. زه وايم ميا صاحب د استعمار او انحطاط عمر ته ګوري وړاندې نه ګوري.

ميا صاحب وايي پښتون، جمهوريت پسند دی خپلې دعوی جګړې په جرګه فيصله کول غواړي. بيا وايي – پښتون ګنديمار دی. په هره جنبه ښه پوهېږي، زه وايم، ګوند حزب دی او دا د جمهوريت سره لازم او له شرايطو څخه يې دی.

ميا صاحب وايي: د پښتون سندرې او موسيقي خوښه ده خو ډم يې بد راځي. زه وايم دا ځکه چې سندرې او موسيقي ملي هنر دی. دی په کې خپله څېره ويني. مګر په رزالت د پيسو ګټل بې ننګي ده.

بیا وايي – د پښتون دين خوښ دی خو ملا ته بد ګوري. زه وايم که په ملا کې تمه ډار او فريب نه وي، خو پښتون دی. او که ملايي د پښتو د باندې کوم څيز وي نو پښتون يې نه مني. زه وايم چې «ښه کوي».

ميا صاحب وايي: پښتون مينه ناک دی، خو شرمناکه مينه نشي کولی. د نفس او شهوت په کارتبارز او تفاخر نه کوي. زه وايم دا ځکه چې په انی شهواتو پسې سرماتول د درنو خلکو کار نه دی.

بیا وايي: پښتون منافق نه دی. کلک دوست او سخت دښمن دی. زه وايم دا ځکه چې يو موقر انسان هر ساعت رنګ نشي بدلولی.

ميا صاحب وايي – پښتون جاه پرست دی. خو مطلبي نه دی. دوستي محض د مطلب د پاره نه کوي. زه وايم دا ځکه چې مطلب اخر ښکاره کېږي. او پېغور لري. پښتون دا عار نشي قبلولی!

بیا وايي: پښتون درناوی غواړی – که څوک يې سپکاوی وکړي او دی بدل نشي اخيستی نو عمرونه، عمرونه صبر کوي. خو اخر خپل انتقام اخلي. په دې شرط که متعدي متکبر وي او که روغه وشي. او متعدي عذر وکړي نو په روغه هم ښه پوهېږي. پښتون هيڅکله په ښځه وار نه کوي، په ښځه مين دی خو د تجارت مال يې نه ګڼي. د ښځې نمايش لوی عيب ګڼي!

ميا صاحب وايي – پښتون وطنپرست دی. په ټول جهان ګرځي خو زړه يې په وطن کې وي. خپل مړی وطن ته راوړي که څه هم زمانې پرې تېرې شي.

ميا صاحب ځينې خبرې انتباهي کړې دي چې قام بيدار شي. نو ځکه يې ما ځوابونه لازم ونه ګڼل!

## د پښتونولی فلسفه:

زما په فکر په پښتونولۍ کې ډېر دودونه قوانين، اخلاق او د حکم او ادارې اساسات داخلېږي چې استقضايي ډېرې پانې غواړي. خو که مونږ وغواړو چې دا ټول د يو عنوان لاندې راولو او په يو اصل ورته قايل شو! نو د پښتونولی بنيادونه په (غيرت) ولاړ دي. په همدې دليل چې پښتانه له چا پښتو او پښتونولي نفې کوي نو وايي «بېغيرته» دی. غيرت په عربو او پښتنو کې په يو شان موجود ؤ. اسلام هم وايي غيرت تثبيت کړی دی. پيغمبر (ص) ويلي دي (من لا غيرت له لا ايمانه له) د پښتنو په نزد (غيرت د سړيتوب معيار دی) غيرتي شخص ذلت، حقارت، شرم، عار او پيغور نشي زغملای. نو ځکه د غيرت د پاره سر ورکوي.

«ننګيالي چې يو ځل مخ کا په کوم لوري بيا هيڅ نه ګوري کوهی وي که ګړنګ»

د غیرت کلمه د پښتنو د پاره دومره محرکه ده لکه خپله د پښتو، پښتون او پښتونولۍ کلمات چې دي. که پښتون ته دې بېغیرته ووایه لکه چې په ټوپک یې وولې. دا عنعنه ماته ډېره قدیمي ښکاري. هر څومره پوه حکیم او فیلسوف پښتون چې وي د غیرت په ځای کې انحراف نشي کولی.

زمونږ واکوالان تل په نطقونو کې د (غیرت ملت) خطاب کوي. مونږ ته غیرت په توراث پاتې دی. خلک په لاشعورۍ کې د غیرت د اغېزې لاندې راځي. او واکوالان هم په عنعنوي ډول زما غیور ملته خطاب کوي. زه غواړم چې په شعوري صورت غیرت وڅېړم. غیرت: عربي کلمه ده د همت او مروت په معنی. په عربي کې په خپل زوج او زوجه باندې غیرت کولو ته وایي. ښځې په میره او میړه په ښځه غیرت وکړ دا معنی لري چې د بل چا مداخله یې پکې رد او نفې کړه او له خپل حق څخه یې دفاع وکړه. وروسته پکې توسعه شوې او د خپل حق نه د دفاع ځای ته نقل شوې ده. خپل حق مادي وي که معنوي. شخصي وي که اجتماعي. نو دفاع له کور کلي پولې، پټي، قام، ټبر، وطن او حکومت او دارنګه دفاع د خپل ناموس، شرم، حیا له خپلې ژبې، قومیت، دین، ائین، دود دستور روایاتو او له خپلې ټولنې او جمعیت څخه دا ټول په کې داخلېږي.

قومونه او ملتونه په ابتدائي او نامتمرکز حالت کې وړاندې فکر نشي کولی یا دا چې شرایط یې وړاندې فکر ته نه پرېږدي. خو متمرکز او شعوري قومیت او ملیت لوی او عالي هدف ته متوجه کېږي. دغه وخت حیا، ناموس، درناوی او حرمت اجتماعي شیونو، اقتصادي، خواوو او سیاسي مسائلو ته وراړوي.

نو دغه وخت غیرت دا حسابېږي چې شخص د ملت او اجتماع په قوت خپل اجتماعي، اقتصادي او سیاسي حقوق د پردو او اغیارو له لاسه د ملت او دولت په نفع خلاص او ازاد کړي. او یو اجتماعي ابرومند ژوند ته ورسېږي.

خو دلته هم رسیدلي ملتونه کولتوري استعمار او ابتدائي ملتونو له اقتصادي تعدی څخه زیات شکایت کوي او ربښتیا چې (کولتور د ملت ساه ده او اقتصاد یې غذا ده، اول ژوند دی او بیا خوند.

کولتور د تاریخ د ادوارو مولود دی. دا کار نه په تعلیم او تربیه کېږي او نه په پیسو لاس ته راځي. له کولتوري خوا ویل شوی ملت محوه کېږي او سم دریدای نشي، که کوم شخص او ملت یرت نه لري له ځانه دفاع نشي کولی. حتماً باید مستعمره شي**!** او په پای کې محوه **!!**

مونږ د پښتونولۍ په چاپ شوي کتاب کې تقریباً په ۵۰ عنوانونو بحث کړی دی. چې دا ټول د غیرت له کلمې څخه لاندې کېږي.

وګورئ غیرتي خو د داد بخضیت خاوند او میړنی سړی تورزن بادرد او سیال وي چې پېغور نشي زغملای نو داسې شخص یا میدان ګټي او یا په کې مري. سپک او بې اهمیته ژوند نه خوښوي!

غیرتي شخص، عدل او انصاف له لاسه نه ورکوي، ننواتې کلمه د ننوتل نه جوړه شوې ده. چې سړی په عذر د چا کور ته ننوزي نو غیرتي انسان یې عذر قبلوي او عفه ورته کوي.

ښځې په جنګ کې مصوونې دي – ځکه چې یو غیرتي او با شهامته شخص ځنګه کولی شي چې ښځه یعنې د کور مېرمن د امن او ودانی سمبول، د حسن جمال، مینې او محبت مظهر په ټوپک وولي او په دې اقدام د خدای قهر او د فطرت غضب ځان ته راواړوي او د سړیتوب او تمدن نه د بغاوت مرتکب شي، د مشرانو منت هم د ساهو او شریف انسان کار دی چې مشر نه وي او مشر ته اطاعت ونشي، نظم او دسپلین به چې د سوسائټي د حفظ شرط دی ړنګېږي. جرګه د مېړونو انتقام هم د میړنو کار دی که متمرد په سزا ونه رسول شي جامعه ړنګېږي. جرګه د میړونو او سړو کار دی. چې خپل مطلب په دلایلو او سوسائټي په قوت مخکې بیایي نه په شخصي قوت او تمرد. روغه جوړه په پښتنو کې اصول لري. لکه جنګ یې چې لري. همتناک او اصولي سړی هم په جنګ پوهېږي، هم په روغه. یعنې صلحه. تیره د سولې پسې دوهم قدم دی. تیره یو عهد دی چې تر معین وخته پورې دوه دښمنان یو پر بل تعرض نه کوي که نه نو ناغې لاندې راځي چې د قوم په جرګه اړه لري.

ایماندار – پښتانه وائي پلانی، کلک غیرتي او ایماندار سړی دی. دروغ نه وایي، خیانت نه کوي، چل نه جوړوي، لوظ نه ماتوي، چې هو یې وکړه، نه، نه وایي. ورنه مه ډارېږئ. د لارې سړی دی!!! د ځان عزت لوړ همتي، ازادي، حریت او مساوات د غیرتي انسان کار دی. که څوک د بل چا قدر کوي په حقیقت کې د ځان قدر کوي. همدارنګه غیرتمن سړی د چا غلامي نشي کولی! د خپل حرمت ساتلو د پاره غرور، تکبر او تفوق طلبي نه کوي!

سخا، مېلمه پالنه، مېلمستیا، په مېلمه غیرت، بدرګه، د سیمې احترام د غیرتمنو پښتنو خاصه ده. په مېلمه کې اشنایي او نا اشنایي فرق نه لري. پاکي، عفت هم له غیرته پیدا کېږي چې خپل ناموس ورته ګران وي. د بل ناموس هم ورته ګران وي. اتفاق، سادګي، ناموس مستقیماً په غیرت پورې تړلې دي! پښتانه ډول سینګار د ښځو خاصه ګڼي! د سړي ګانه سړیتوب او میرانه ده.

غزا مقدس جنګ دی. چې په دین باندې د غیرت د پاره کېږي! او پښتانه په کې له سر او ماله تېرېږي! دین اجتماعي اصول دي. پښتانه اصولي خلک دي. له دینه دفاع ګویا له خپلو اصولو شعائرو او ناموس څخه دفاع ده! پښتانه دین د ناموس په سترګه ګوري! داړه، او چپاو د دوی د جنګ اصول دي چې دنیا له دوی زده کړل!

د نسل او رواياتو ساتنه د کولتور ساتلو پورې اړه لري. بې کولتوره ټولنه کې عزت او حرمت نه ساتل کېږي. د پوخ عمر نکاح، د قوي نسل پيدا کولو شرط دی. ضعيف نسل د بيغيرته انسان غوندې د هيڅ شي نه دی. سړی که جسماني کمزوری وي اخلاق يې هم کمزوري وي بيا نو د هرې په باب دا يو ټکی وايي (چه فرق می کند) او تېرېږي!

د ښځو وظائف په عائله کې: د پښتنو ښځې هم پښتنې دي. د ميړه د اوږو بار نه دي. ښځې د نارينه وو سره برابر او کله ورنه درانه وظايف په غاړه لرېږ. او دا وظائف تقسيم دي. د کور سمبالول، اولاد پښتون او سرسخته روزل، پخی، کالي، ګنډل، وينځل، ميلمه پالل يعنې د خوراک تهيه کول، لوشل، شاربل د ښځو کارونه دي.

پښتني روايات او پښتو ژبه سوچه ساتل، متلونه، لنډۍ او نيمکۍ د پښتنو ښخو ادبيات دي. پښتنه ښځه د ميړه حيا، ناموس، محافظه او دومره وفاداره ده چې ځينې ښاري شوي خلک باور نشي کولی! اساسي تمدن هم همدا دی او دا روايات ډېر پخواني او محکم دي! رښتيا ويل، خلک نه غولول، محتاج سره مرسته کول او خپل اهميت ټينګول د قوم د ضرورياتو د پاره بسپنه او اعانه ورکول، د جائز مرام د پاره ګوند تقويه کول چې استبداد رانشي د ښځې او ميړه تر منځ متقابل احترام او که ميړه مړ شي، ګونډتون کول او د اولاد د پاره سر سپينول چې اولاد د پالندر لاس ته پاتې نشي! دا ټول د مقدس (غيرت) لوازم دي! هاغه مقدس او شريفانه اريايي اصول چې دنيا يې مثال نشي ښودای!!!

اوس به معلومه شوې وي چې غيرت د فردي، اجتماعي، ملي او دولتي شئونو د ساتلو او د جامعې د ټينګتيا او د نيکو اخلاقو او سرېتوب اساسي ټکی او بنياد دی!!!

غيرت په يو قام کې انجکشن کيدی نشي. دا يو توارث دی. سوونه او زرګونه کاله بايد تېر شي چې له نسل نه نسل او له عصر نه عصر ته منتقل شي. دودونه او روايات دغومره چاڼ، تصفيه، پاخه او مستحکم شي!!! توارث نه زرتيکېږي او نه زرمحوه کېږي!

غيرت زما په توجيه له (غير) ځخه جوړ دی چې د قام ملي مشخصات او مميزات – ورپورې اړه لري. قام د مشخصاتو او مميزاتو مولود دی. که دا خفظ نشي اجتماعي ګډوډي پېښېږي. د غيرت ساتل د ژوند او مترقي او بې غيرتي د يوه ملت د مرګ او اضمحلال موجب او علامه ده.

استعمار کوښښ کوي چې اول يو قام بې غيرته او ارجل کړي او بيا يې په اسانۍ سره وخوري. پښتانه يوازې هغه قام دی چې دې حال ته (چه فرق ميکند) نشي ويلی. نو ځکه يې په خپل اصيل تاريخي کولتور منګولې لګولي او ورباندې ټينګ دي! وګورو چې خدای څه کوي!!!

*قيام الدين خادم ۱۵ د عقرب ۱۳۵۴ خادم مينه، کابل، افغانستان!*